جان لنون
ژباړه: فرهاد وياړ


## ښځه د نړۍ تر ټولو زوريدلې

ښځه د نړۍ تر ټولو زوريدلی ده

هو، همداسې ده

فکر وکړه او يو څه وکړه

مجبوره وو يې چې خپله څيره رنګ کړي او راته ونڅيږي

که ونه غواړي برده ووسي، وايو چې ورته ګران نه يو

که واقعي وي، وايو چې د سړي پيښې کوي

سپکاوی يې کوو، خوداسې ښکاره کوو چې راته ګرانه ده.

ښځه د نړۍ تر ټولو زوريدلی ده

هو، همداسې ده

که باور نکوی، د خپل ژوندانه ملګرې دې وګوره

ښځه د برده ګانو برده ده

هو، دا بايد فرياد کړو

مجبوره وو يې چې وزيږي او اولاد ولري

بيا يې پريږدو چې ورنه چاقه کورنۍ چرګه جوړه شي

هغه ته وايو چې ځای دې يوازې په کور کې دی

خو رټو يې چې ډيره غير اجتماعي ده او د انډيوالی لپاره نه کارېږي.

ښځه د نړۍ تر ټولو زوريدلی ده

ښځه د برده ګانو برده ده

شپه او ورځ په ټلويزيونونو کې ښځو ته سپکاوی کيږي

خو بیا هم حیران یو چې ولې زړورتیا او اعتماد په نفس نلري
پیلغه چې وي، آزادي غوښتنه په هغي کې وژنو
په خپله ورته وایو چې هوښیاري او چالاکي ونکړي
خو بیا یې سپکاوی کوو چې ولې دومره احمقه یې
ښځه د نړۍ تر ټولو زوریدلې ده
که باور نکوی، د خپل ژوندانه ملګري دې وګوري
ښځه د برده ګانو برده ده.
هو، دا باید فریاد کړو.